# د حج د ثواب باعث جوړیدونکي اعمال

16-May-2024



هفته وار د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ شپاړسمه مئي کال 2024ء د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د حج د ثواب باعث جوړيدونکي اعمال

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... هُم هٰغه خوک ځي کوم چې رَحمٰن راغواړي
- ...سوالوني يــې هم پخپله بيان کړل او جوابونه يــې هم ورکړل
- ... غريب او مالداره يو شان
- ... د اشراق د نـمونځ پۀ برکت يــې بخښنه وشوه

پيشکش:

اَلْـمَـدِيْـنَـةُالْـعِـلْـمِـيَـة

**I**slamic **R**esearch **C**enter

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مبارک دے: فرض حج کوئ بے شکه د دې ثواب پهٔ شلو غزواتو کښې د شرکت کولو نه زيات دے او پهٔ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دي.[1]

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر | سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خُدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو[2]

**وضاحت**: [يعنې اے] خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دوزخ د وور نه د بچ کوونکي او جنّت ته د بوتلونکي، احسان کوونکي آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې ټول عمر د درود او سلام نذرانې وړاندې کوئ، ولې فضول د خپلو ګناهونو د معافۍ د پاره فِکر مند يئ، د **الله** پاک پهٔ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود لولئ **الله** پاک به ستاسو ګناهونه وبخښي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



[1] ...فردوس الاخبار، جلد:1، صفحہ:339، حدیث:2484۔
[2] ...نورِایمان، صفحہ:57۔

www.dawateislami.net

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے.[3]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به تهول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه سره به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## حج له هُم هغه راځي څوک چې اللّٰه پاک وبلي

حضرت علي بن مُوَفِّق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما د حج سعادت حاصل کړو، د کعبې شريفې طواف مې وکړو، حجرِ اَسوَد مې ښکل کړو، دوه رکعته د طواف نمونځ مې ادا کړو، بيا د کعبې شريفې د ديوال پهٔ خوا کښې کښيناستم او پهٔ ژړا شوم او د **اللّٰه** کريم پهٔ حُضُور کښې مې عرض وکړو چې يا **اللّٰه** پاکه! معلومه نهٔ ده چې ما ستا د پاک کور څو څو ځله طواف وکړو خو ما ته خبر نشته چې زما دا محنت به قبول شوے وي که نه...!! داسې پهٔ ژړا ژړا کښې زهٔ اُوده شوم، ما يو غيبي اواز واوريدو: اے **علي بن مُوَفِّق! مونږ ستا خبره اوريدلې ده، آيا تهٔ خپل کور ته صرف هغه نه راغواړې د چا**



[3]...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

سره چې تهٔ محبت کوې. [4]

| | |
|---|---|
| یاخُدا! حج پہ بُلا آ کے میں کعبہ دیکھوں! | کاش! اک بار میں پھر میٹھا مدینہ دیکھوں |
| پھر میسر ہو مجھے کاش! وقوفِ عرفات | جلوہ میں مزدلفہ اور منیٰ کا دیکھوں |
| جھوم کر خوب کروں خانۂ کعبہ کا طواف | پھر مدینے کو چلوں گنبدِ خضریٰ دیکھوں |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صلَّى الله عليهِ وآلهٖ وسلَّم عاشقانو! د حج ورځې نزدې راغلې ❀خوش قِسمته خلق کومو ته چې د حج د سعادت پيغام راغلے دے ❀هغوئي به د حج تيارياني کوي ❀ قافلې به د حرم پهٔ لور د روانيدو تياري کوي ❀ **الله** پاک دې زمونږه هم دا سعادت نصيب کړي ❀چې مونږ هم اِحرام وتړو ❀ حرمِ پاک ته لاړ شو او ❀ د کعبې شريفې پهٔ مقدسو ښکلو ښکلو فضاګانو کښې د ساه اخستو سعادت رانصيب شي ❀د کعبې شريفې د نُور نه پهٔ ډکو نظارو سترګې يخې کړو ❀ کله مُلتَزَم (يعنې پهٔ خانه کعبه کښې چې کومه حصه د کعبې د دروازې او د حجرِ اَسود ترمينځه ده هغه) ښکل کړو ❀ کله حجرِ اَسود ښکل کړو ❀ کله د ميزابِ رحمت لاندې د نفل کولو سعادت رانصيب شي ❀ مِنىٰ، عرفات، مُزدلفې ته تلل او د لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ نعرې وهل مو نصيب شي.



4...الروض الفائق، صفحہ:59۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| یا خدا ایسے اَسباب پاؤں | کاش مکے مدینے میں جاؤں |
| مجھ کو اَرمان حج کا بڑا ہے | یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے(5) |

او امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دعا کوي:

| | |
|---|---|
| بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آئیگا کب یا الٰہی! |
| مَیں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یا الٰہی!(6) |

الله پاک دې مونږ ټولو ته د حج او عمرې کولو، او مدينے منورې ته د بيا بيا، بيا بيا، بيا بيا با ادبه حاضرئ سعادت رانصيب کړي، کاش چې مونږ مکے ته لاړ شو، مدينے ته لاړ شو بيا راشو، بيا لاړ شو، بيا راشو، بيا لاړ شو، کاش چې آخر مو پهٔ مدينه کښې دوه ګزه زمکه نصيب شي.

مجھے مرنا ہے آقا گنبدِ خضرا کے سائے میں
وطن میں مَر گیا تو کیا کروں گا یا رسولَ الله!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## حج پهٔ چا باندې فرض دے...؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حج د اِسلام پهٔ پينځوو بنيادي ارکانو کښې يو اهم رُکن دے. پهٔ دې باره کښې د رَبِّ کريم حکم دے:



5...وسائلِ بخشش، صفحہ:137۔
6...وسائلِ بخشش، صفحہ:107۔

www.dawateislami.net

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا (پاره:4،سورۂ آلِ عمران:97)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د الله د پاره په خلقو باندې د دې کور حج کول فرض دي څوک چې دې ته د رسيدلو طاقت لري.

معلومه شوه چې څوک کعبې شريفې ته د رَسيدو اِستطاعت [يعنې وَس] لري، په هغهٔ باندې حج فرض دے. سرورِ عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د استطاعت تفسير د زَاد او رَاحِلَه سره کړے دے، د راحِله مطلب دے: سورلی، د زاد مطلب دے: د سفر خرچ. علمائے کرام فرمائي چې د چا سره دومره مال وي چې د کور نه ووځي او مکے مکرمې ته وَرسي، هلته د اوسيدو خرچه، د واپس راتللو خرچه او څومره ورځې چې په حج لګي د هُغه ورځو د کور والؤ خرچه د دهٔ سره موجوده وي او لاره هم د امن والا وي نو په دهٔ باندې حج فرض شي.(7) او ياد ساتئ چې د حج فرض کيدو نه پس ❀فوراً حج کول ضروري دي، يعنې په دې کښې د لم ليټ نه کار اخستل چې په راتلونکي کال کښې به لاړ شم ❀چې د لونړو ودونه وکړم، د هغې نه پس به ځم ❀اوس په کاروباري معاملو کښې انښتے يم، چې دا سر ته ورسووم نو بيا به حج له ځم، دا انداز قطعاً صحيح نه دے.

## د فرض حج نهٔ کولو وعيد

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! څوک چې د فرض کيدو باوجود حج نه کوي، هغه ډير په نقصان کښې دے. د مسلمانانو د څلورم خليفه



7... خزائن العرفان، پارہ:4، سورۂ آلِ عمران، تحت الآیۃ:97، صفحہ:126 بتصرف۔

حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی، شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د **اللّٰه** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائیلي دي: کوم بنده چې د زَاد او رَاحِله (يعنې د سورلۍ او د سفر د خرچ) مالک وي، چې د هغې پۀ ذريعه هغۀ مکے مکرمې ته رسيدے شي، د دې باوجود که هغه حج ونکړي نو که وغواړي يهودي شوے دې مړ شي يا نصراني شوے [دې مړ شي]. (8)

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم **عاشقانو!** غور وکړئ چې څومره سخت وعيد دے، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم رَحْمَةٌ لِّلعَلَمِين (يعنې د ټولو جهانونو د پاره رحمت) دے، د خلقو ايمان راوړل هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم تۀ ډير خوښ دي، چې کله به کافرانو کلمه نه وئيله، د قرآن پۀ آيتونو باندې به يې ايمان نه راوړو نو رسولُ اللّٰه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به ډير غمژن کيدلو، رحمتِ عالم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم چې د کافرانو پۀ کلمه نه وئيلو به هم غمژن کيدلو، هغوئي د يو مسلمان د پاره ارشاد فرمائي چې: د حج فرض کيدو باوجود که هغه حج نه کوي، نو که هغه غواړي نو يهودي شوے دې مړ شي يا نصراني.

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ د دې **حديثِ پاک** پۀ وضاحت کښې فرمائي: مطلب دا دے چې څوک د حج فرض کيدو باوجود حج نه کوي د هغه پۀ مرګ کښې او د يهود او نصارىٰ پۀ مرګ کښې هيڅ فرق نشته، **اللّٰه** پاک د حج پريښودونکي نه هم ناراضه دے، د يهوديانو او نصارىٰ نه هم ناراضه دے. آؤ! خو پۀ دواړو



8...ترمذی، کتاب الحج، صفحہ: 223، حدیث: 812۔

ناراضګو کښې فرق دے. خو که څوک حج هم نه کوي او د حج د فرض کيدو نه هم انکار کوي نو داسې بنده به کافر شي او د هغۀ او د اهلِ کتاب پۀ کُفر کښې به هيڅ فرق پاتې نه شي. [9]

| | |
|---|---|
| شَرَف دے حج کا مجھے میرے کبریا یارب! | روانہ سُوئے مدینہ ہو قافِلہ یارب! |
| دِکھا دے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی | بس اُن کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارب! |
| بَوقتِ نَزع سلامت رہے مِرا ایمان | مجھے نصیب ہو توبہ ہے التجا یارب! [10] |

## سوالونه يې هم پخپله وښودل او جوابونه يې هم ورکړل

د ابن حَبّان روايت دے چې يو ځل يو انصاري صحابي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې د څۀ پوښتنو د پاره حاضر شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: که تۀ غواړې نو زما نه پوښتنې وکړه! او که غواړې نو هم زۀ تا ته ستا پوښتنې هم وايم او د هغې جوابونه هم وايم. صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هم تاسو يې ارشاد کړئ چې زۀ د څۀ پوښتنې د پاره راغلے يم؟ آقا کريم رؤوفُ رَّحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: تۀ د دې پوښتنو د پاره راغلے يې چې ❁ کله حاجي د خپل کور نه ووځي نو د هغۀ د پاره څۀ ثواب دے؟ ❁ چې کله پۀ ميدانِ عرفات کښې ايسار شي نو د هغۀ د پاره څۀ ثواب دے؟ ❁ چې کله رَمي جَمَرات کوي (يعني شيطانان پۀ کاڼو وَلي) نو د هغۀ د پاره



9...مراۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:94۔
10...وسائل بخشش، صفحہ:87ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

څۀ ثواب دے؟ ❀ چې کله حاجي سر وخريوي نو د هغۀ د پاره څۀ ثواب دے؟ ❀ چې کله حاجي آخري طواف پوره کړي نو د هغۀ د پاره څۀ ثواب دے؟ انصاري صحابي رضی اللہ عنہ عرض وکړو: اے د **الله** پاک نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم! په هٔغه ذات مې دې قسم وي! چا چې تاسو رښتوني نبي راليږلي يې، بے شکه تاسو ټولې پوښتنې صحيح ارشاد کړې، اوس د دې جوابونه هم راعطا کړئ، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى الله عَلَيهِ وَاٰلِه وَسَلَّم ووفرمائيل: ❀ چې کله حاجي د خپل کور نه ووځي نو د هغۀ د سورلۍ د هر قدم په بدله کښې د هغۀ د پاره يوه نيکي ليکلے کيږي او ❀ يوه ګناه يـې معاف کيږي ❀ چې کله هغه په ميدانِ عرفات کښې ايسار شي نو **الله** پاک د خپل شان لائق په دنيائي اسمان تجلي فرمائي او فرمائي: **اے فرښتو تاسو ګواه اوسئ! ما د دۀ ګناهونه معاف کړل اګر که د باران د څاڅکو او د شګو د ذرو برابر وي.**

خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم نور ووفرمائيل: ❀ چې کله حاجي رمي جَمَرات کوي (يعني شيطانان په کاڼو وَلي) نو تر قيامته پورې د دې په ثواب څوک هم نه پوهيږي ❀ چې کله هغه خپل سر وخريوي نو د هغۀ د سر نه د غورځيدونکي هر ويښته په بدل کښې به د قيامت په ورځ نُور وي ❀ او چې کله حاجي د کعبې شريفې آخري طواف وکړي نو د ګناهونو نه داسې پاک شي، لکه څنګه چې په هٔغه ورځ وو چې کله خپلې مور زيږولے وو.(11)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** غور وکړئ چې د حج کولو څومره زبردست فضائل دي ❀ چې حاجي د کور نه ووځي نو د هغۀ په هر



11...ابن حبان، کتاب الصلاة، ذکر وصف بعض السجود...الخ، صفحہ:586، حديث:1887۔

قدم باندې يوه نيکي ليکلے کيږي ❀ يوه ګناه يــې ورانولے کيږي ❀پهٔ ميدانِ عرفات کښې د هغهٔ ټول ګناهونه معاف کيږي ❀حاجي چې کله شيطان پهٔ کاڼو اُوولي نو هغهٔ ته بے شميره اجر عطا کيږي ❀ حاجي چې سر خريوي نو د هر يو ويښته پهٔ بدله کښې به ورته د قيامت پهٔ ورځ يو نُور عطا کيږي ❀حاجي چې کله د بيتُ الله آخري طواف کوي نو هغه د ګناهونو نه بالکل پاک شي ❀د مقبول حج جزا جنّت دے ❀حج مخکښيني ګناهونه ختموي ❀حاجي به پهٔ خپل کور والؤ کښې د څلورو سوو کَسانو شفاعت کوي ❀حاجي چې د څا د پاره د بخښنې دُعا وکړي، هغهٔ به هم وبخښلے کيږي ❀ حاجي د **الله** پاک ميلمه دے ❀د حاجي دُعا قبليږي ❀د حاجي تنګدستي ختميږي ❀ کوم حاجي چې د حج پهٔ سفر کښې وفات شي نو د قيامت پهٔ ورځ به د خپل قبر نه پهٔ تيز اواز د تَلبِيَه (يعنې لَبَّيْك اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) لوستو سره راپاځي ❀حاجي ته پهٔ سفر کښې د يوې روپۍ لګولو پهٔ بدل کښې د لس لاکهه روپو لګولو ثواب ميلاويږي ❀حاجي چې کله د کعبې شريفې د طواف شرف حاصلوي نو پهٔ هغهٔ باندې 60 رحمتونه نازليږي ❀ حاجي چې پهٔ مسجدِ حرام (يعنې چرته چې خانه کعبه ده، پهٔ هغهٔ جومات) کښې نـمونځ کوي نو پهٔ هغهٔ باندې څلويښت رحمتونه نازليږي ❀حاجي چې مسجدِ حرام ته وَرسي او صرف د کعبې شريفې زيارت وکړي نو پهٔ هغهٔ باندې شل رحمتونه نازليږي.

سُبۡحٰنَ الله! دا څومره عظيم فضائل دي، **الله** پاک دې زمونږه هم د حج شوق نصيب کړي، کاش چې مونږ هم د حج سعادت حاصل کړو، ياد ساتئ

چې د حج د پاره د پيسو نه بلکې د زړۀ د رښتوني درد ضرورت دے، د رَبّ تعالیٰ پۀ نزد رښتوني طلب او رښتونې درد ته کتلے شي، که درد رښتونے وي، طلب رښتونے وي، شوق رښتونے وي نو د الله کريم رحمتونه ضرور نصيب کيږي، ضرور د کرم نظر کيږي او بنده ته د حج سعادت نصيب کيږي.

## د حج د ثواب باعث جوړيدونکي اعمال

الله پاک دې هر کال زمونږ د حج سعادت نصيب کړي. دا خبره ياد ساتئ چې پۀ چا باندې حج فرض دے، هغۀ ته صرف حج کول دي، بَل يو کار د دې پۀ ځائے نشي کيدے. البته! دا هم پۀ خپل ځائے يو حقيقت دے چې حج د عشق سفر دے، که فرض وي او که نۀ، د عاشقانو زړونه د دې مبارک سفر د پاره بے قراره وي، ډير داسې عاجزه عاشقان شته چې د حج د پاره روانې قافلې اُوويني نو زړه يې بے قراره شي، پۀ سترګو کښې يې اوښکې راشي او پۀ ډير ارمان سره وائي چې:

| | |
|---|---|
| حاجیوں کے بن رہے ہیں قافلے پھر یا نبی! | پھر نظر میں پھر گئے حج کے مناظِر یا نبی! |
| آہ! پلّے زَر نہیں، رختِ سَفَر سرور نہیں | تم بُلا لو! تم بُلانے پر ہو قادِر یا نبی! |
| غم کے بادَل چھا رہے ہیں، آہ! میرے قلب پر | حاضِری کی دو اجازت مجھ کو تم پھر یا نبی! [12] |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا واقعي حقيقت دے چې څوک عاشقان دي، هغوئي د حج د سفر د پاره بے قراره هم وي، ژاړي او اوښکې هم بهيوي. کاش چې زمونږ د ټولو دا شوق، دا ذوق، د حج د سفر رښتونے طلب نصيب شي.



12...وسائلِ بخشش، صفحہ:376۔

بهر حال چې کومو خوش قِسمتو ته به دا کال د حج د سفر سعادت نصيب کيږي، د هغوئي مقام، د هغوئي مرتبه، د هغوئي خوش قِسمتي بيله ده. البته هٰغه خلق کوم چې د حج شوق لري خو د تللو طاقت نه لري، نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه ښکلي دِينِ اِسلام هغوئي هم محرومه نه دي پريښودي، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې ډير اعمال مونږ ته ښودلي دي، د کومو د اختيارولو سره چې مونږ د حج ثواب حاصلولے شو.

راځئ چې د حج د ثواب باعث جوړيدونکو يو څو نيکو اعمالو ذِکر واورو:

## (1): ذِكرُ الله كول

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** صحابئ رسول حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي: يو ځل مونږ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ذَهَبَ الْاَغْنِيَاءُ بِالْاَجْرِ يعني اے د **الله** پاک خوږه رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مالداران پهٔ ثواب ګټلو کښې زمونږ نه مخکښې شول. (بيا يې وکړو:) يَحُجُّوْنَ وَ لَا نَحُجُّ هغوئي حجونه کوي، مونږ حج نشو کولے، هغوئي فلانکي فلانکي مالي عبادتونه کوي، زمونږ (سره مال نشته، نو) مونږ هٰغه مالي عبادتونه نشو کولے.

د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ښکلي شوق ته وګورئ! حاجيان د حج د پاره ځي، دوئي د مالي وَس نه لرلو پهٔ وجه حج له نشي تللے نو بے قراره دي چې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هغوئي د حج د پاره لاړل او مونږ پاتې شو...!! رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته ووفرمائيل: آيا زهٔ تاسو ته داسې څيز اونه ښايم چې که تاسو پهٔ هغې باندې عمل وکړئ نو کوم

فضيلت چې هغوئي (يعني حج او نورو مالي عبادتونو کوونکو) ته ميلاويږي، د هغې نه هم زيات فضيلت تاسو ته حاصل شي. بيا ورته رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د داسې فضيلت والا نيکې وښودله او اوئې فرمائيل: د هر نـمونځ نه پس، 33 ګرَته سُبْحٰنَ الله! او 33 ګرَته اَلْحَمْدُ لِلّٰه، 34 ګرَته اللهُ اکبر لولئ...!! [13]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې **حديثِ پاک** کښې زمونږ د زدکړې د پاره دوه سبقونه دي: ﴿1﴾: د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ځانګړې، د نيکو نه ډک سوچ ته وګورئ! ❀مالداره خلق ښه خوراکونه کوي، په هغې باندې هغوئي رَشک نه کوي ❀مالداره خلق ښې جامې اغوندي، په دې باندې هغوئي رشک نه کوي، ❀د مالدارو خلقو کورونه بهترين دي، په دې باندې هم رشک نه کوي. چې رشک کوي نو صرف په دې خبره باندې چې دا خو صحيح ده چې ❀هغوئي نـمونځونه کوي، مونږ هم نـمونځونه کوو ❀هغوئي تلاوت کوي، مونږ هم تلاوت کوو ❀هغوئي حديثونه اوري، مونږ يـې هم اورو ❀هغوئي نفلونه کوي، مونږ يـې هم کوو ❀هغوئي روژې نيسي، مونږه يـې هم نيسو، يعنې تر دې پورې خو معامله برابر ده ❀خو هغوئي مالداره دي، ځکه هغوئي حج، زکوٰة، صدقه او خيرات وغيره مالي عبادتونه هم کوي خو مونږ مالي عبادتونه نشو کولے، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په دې ځائے کښې مالداره صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم زمونږ نه د نيکو په معامله کښې وړاندې روان دي.

سُبْحٰنَ الله! دا دے د رشک اصلي مقام...!! زمونږ حالات داسې دي چې



[13]...سنن الکبریٰ للنسائی، جلد:9، صفحہ:65، حدیث:9902۔

www.dawateislami.net

غريب سړے مالدارو ته ګوري نو پۀ زړۀ کښې يې دا لالچ راځي چي ❁ د مالدارو سره بنګله ښه ده ❁ د مالدارو سره ګاډي بهترين دي ❁ د مالدارو خوراک څښاک ډير اعلیٰ دے. افسوس! چې مونږ پۀ دې خبرو باندې لالچ کوو خو صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم به د نيکو پۀ کثرت باندې رشک کولو. کاش چې زمونږ هم د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم پۀ شان ښکلے ښکلے اعلیٰ سوچ جوړ شي.

## غريب او مالداره يو شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ياد ساتئ چې زمونږ پۀ زړۀ کښې چې دا کوم لالچ راځي، داسې مۀ ګڼئ چې دا معمولي خبره ده،...!! نه! نه! دا معمولي خبره نۀ ده. پۀ زړۀ کښې د دې لالچ راتلو ډير اهميت دے. **حديثِ پاک** واورئ! خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: دُنيا د څلورو خلقو ده: **(1)**: هُغه بنده چا له چې **الله** پاک مال هم ورکړے دے او عِلم يې هم ورعطا کړے دے، نو هغه د مال پۀ باره کښې د **الله** پاک نه ويريږي، صِله رحمي (يعنې د خپلوانو سره ښۀ سلوک) کوي، د مال حقونه پوره پوره ادا کوي. دا ډير افضل دے. **(2)**: دويم بنده هغه دے، چا ته چې **الله** پاک عِلم خو عطا کړے دے خو مال يې نه دے ورعطا کړے او هغه دے رښتوني نيت والا، هغه دې مالداره عالِم ته ګوري او سوچ کوي چې کاش! زما سره هم مال وے، ما به هم هُغه نيکۍ کولې، کومې چې دا مالداره عالِم کوي. اوئې فرمائيل: دا غريب عالم او هُغه مالداره عالِم پۀ ثواب کښې دواړه برابر دي. بيا رسول الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ووفرمائيل: **(3)**:دريم هُغه بنده دے، چا ته چې **الله** پاک مال خو عطا کړے دے خو عِلم يې نه

دے ورکړے، بيا دا ګس مال بغير د عِلم نه لګوي، نۀ پۀ دې معامله کښې د **الله** پاک نه ويرېږي، نۀ د دې پۀ ذريعه د خپلوانو سره ښه سلوک کوي، نۀ د مال حقونه پوره کوي، دا د ډيرې بدې مرتبې والا انسان دے. **(4)**:بيا څلورم هغه ګس دے، چا له چې **الله** پاک نۀ مال ورکړے دے، نۀ يې عِلم ورکړے دے، دے چې کله داسې بے عِلمه مالدار ويني نو سوچ کوي چې کاش زما سره هم مال وے، ما هم داسې مزې کولے، لکه څنګه چې دا بے عِلمه مالدار کوي، اوئې فرمائيل: د دې مال وبال د دې دواړو د پاره برابر دے.(14)

اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس دې پۀ مونږ کښې هر يو غور وکړي چې پۀ دې څلورو قِسمونو کښې مونږ د کوم يو قِسم سره تعلق لرو، **الله** پاک نورو له مال ورکړے دے او مونږ غريبانان يو، اوس خپله جائزه واخلئ چې مونږ کله مالداره ووينو نو ولې مو پۀ زړۀ کښې لالچ راځي، که دا حالت مو وي چې مالدار کله حج له ځي نو پۀ زړۀ کښې مو لالچ راځي چې کاش! زما سره هم مال وے نو ما به هم حج کړے وے، مالداره صدقه او خيرات کوي او زمونږ پۀ زړۀ کښې لالچ راځي چې کاش! زما سره هم مال وے چې ما هم صدقه او خيرات کړے وے، پۀ دې حالت کښې خو به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د زړۀ دا لالچ ښۀ ثابتيږي، د رَبِّ رَحمٰن د رحمت نه اُميد دے چې د دې لالچ پۀ برکت به مونږ ته هم د حج او د صدقې وغيره ثواب ميلاويږي او خدائے دې نۀ کړي که چرې دا حالت مو وی چې مالدار عيش کوي، د مال پۀ وجه ګناهونه کوي او مونږ هغوئې وينو او لالچ



14...ترمذی، کتاب الزہد، باب ماجاء مثل الدنیا...الخ، صفحہ:557، حدیث:2325۔

www.dawateislami.net

کوو چې کاش! زما سره هم مال وے چې ما هم داسې عيش کولے، دا لالچ د خطرې خبره ده، پۀ **حديثِ پاک** کښې صفا وئيلے شوی دی چې **هغه چې د مالداره کيدو په وجه د کومو ګناهونو بوج پۀ خپل سر باندې اچوي، دا غريب د چا سره چې مال هم نشته، ځکه د هغې پۀ سبب ګناه هم نه کوي خو د خپل بد نيت پۀ وجه دے او هُغه ګنهګار مالداره پۀ جرم کښې برابر دي.** اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيظ...!!

**اللّٰه** پاک دې مونږ د مال او دولت د حرص نه محفوظ وساتي. کاش چې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم پۀ شان د نيکو والا سوچ مو نصيب شي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## ذِکر کوئ او د حج ثواب ګټئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دويم سبق کوم چې پۀ دې **حديثِ پاک** کښې مونږ ته ميلاؤ شو، هغه دا دے چې کوم بنده د هر نـمونځ نه پس تسبيحِ فاطمه لولي، يعنې 33 کَرَته سُبْحٰنَ الله! 33 کَرَته اَلْحَمْدُ لِلّٰه او 34 کَرَته اَللهُ اَکْبَر لولي، هغه به د مالدارو د مالي عبادتونو (مثلاً د حج، زکوٰة وغيره) پۀ ثواب حاصلولو کښې کامياب شي.

سُبْحٰنَ الله! د دې نه دا معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاک ذِکر ډير د اوچتې مرتبې عبادت دے چې د دې پۀ ذريعه د لوئې لوئې نيکو برابر ثواب ميلاويږي. کاش چې مونږ ته پۀ کثرت سره د **اللّٰه** پاک د ذِکر کولو توفيق رانصيب شي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## عظمت لرونکے روژه نیوونکے څوک؟

حضرت سَهْل بن مُعَاذ رضی الله عنه د خپل والد صاحب نه روایت کوي: یو ځل نُوراني محفل جوړ وو، خوږ آقا صلّی الله علیه واٰله وسلّم تشریف فرما وو، صحابه کرام رضی الله عنهم هم حاضر وو، یو صحابي رضی الله عنه په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو: یا رسولَ صلّی الله علیه واٰله وسلّم ! د الله پاک په لار کښې جنګ کوونکو کښې زیات عظمت والا څوک دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی الله علیه واٰله وسلّم ووفرمائیل: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً یعني څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه ډیر د زیات عظمت والا دے. صحابئ رسول رضی الله عنه دویمه پوښتنه وکړه: یا رسولَ صلّی الله علیه واٰله وسلّم! په روژه نیوونکو کښې زیات عظمت والا څوک دے؟ (مثلاً 100 کسان دي او سلو واړو روژه نیولې ده، په دوئي کښې زیات عظمت والا څوک دے؟) خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی الله علیه واٰله وسلّم ووفرمائیل: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً یعني څوک چې په کثرت سره د الله پاک ذِکر کوونکے دے، هغه د زیات عظمت والا دے.

حضرت سَهْل بن مُعاذ رضی الله عنه فرمائي: هغه صحابي رضی الله عنه هم داسې پوښتنې کولې، مثلاً یا رسولَ الله صلّی الله علیه واٰله وسلّم ! په نمونځ کوونکو کښې زیات عظمت والا څوک دے؟ په زکوٰة ورکوونکو کښې زیات عظمت والا څوک دے؟ داسې یې د یو یو عبادت په باره کښې پوښتنه کوله، او خوږ آقا، د دواړو جهانونو داتا صلّی الله علیه واٰله وسلّم به د هغه ټولو پوښتنو هم یو جواب ارشاد کولو: اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً، اَكْثَرُهُمْ لِلّٰهِ ذِكْراً یعني څوک چې د الله پاک ذِکر په کثرت سره کوي، هغه زیات عظمت والا دے، څوک چې

د **اللہ** پاک ذِکر پهٔ کثرت سره کوي، هغه زيات عظمت والا دے.

د مسلمانانو وړومبے خليفه، حضرت ابو بکر صِدِّيق رضی اللہ عنہ حاضر وو، هغوئي حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ مخاطَب کړو او اوئې وئيل: اے عمره! داسې خو ذِکْرُ الله کوونکو ټولې نيکۍ يوړلې...! خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ووفرمائيل: اَجَل (يعني آؤ! اے ابو بکر! خبره هم داسې ده، ځکه چې د ذِکْرُ الله کثرت کوي، هغه ټولې نيکۍ راټولوي). (15)

## پهٔ جنّت کښې د باغونو لګولو طريقه

حضرت ابو سليمان داراني رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: پهٔ جنّت کښې خالي زمکه ده. چې کله بنده ذِکْرُ الله کوي نو فرښتې پهٔ هغه جنّتي زمکه کښې د هغهٔ د پاره باغونه لګول شروع کړي، بنده چې تر څو پورې ذِکر کوي نو فرښتې د هغه د پاره باغونه لګوي، چې کله بنده [د ذِکر کولو نه] ودرېږي نو فرښتې هم ودرېږي. (16)

## پهٔ کثرت سره د ذِکر نۀ کولو بعضې اسباب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اندازه ولګوئ چې ذِکْرُ الله څومره اعلٰی عبادت دے خو آه! غفلت...! ✿ پهٔ زړهٔ کښې مو جذبه نشته ✿ د نيکو حرص مو د نشت برابر دے ✿ د آخرت د فِکر کمے دے ✿ پهٔ فضولياتو کښې د مصروفه کيدو عادت مو دے ✿ د دُنيا محبت مو ګويا پهٔ زړهٔ



15...معجم کبير، جلد:8، صفحه:481، حديث:16812۔

16...رساله قشيريه، باب الذکر، صفحه:259۔

کښېږي کور کړے دے ❀ هر وخت بس د دُنيا پۀ سوچونو کښې مصروف اوسو ❀ د فضولو خبرو اوريدو او کولو پۀ نشه کښې خو داسې اخته يو چې بس د **اللّٰه** پاک پناه! ❀ غيبت ❀ چغلي ❀ دروغ، معلومه نۀ ده چې دا ژبه پۀ مونږه څنګه څنګه ګناهونه کوي، بيا باقي پاتې کسر سوشل ميډيا پوره کړو، چې کله پۀ تنهايۍ کښې د کښيناستو موقع ميلاؤ شي نو زر موبائل راواخلو او پۀ ❀ فيس بُک ❀ يوټيوب وغيره وغيره کښې مصروف شو. کاش چې مونږ د نيکو حرص کوونکي جوړ شو.

## د 100 حجونو ثواب

د **اللّٰه** پاک آخري نبي **مُحَمَّدِ** مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې سحر او ماښام سل سل ګرَته سُبۡحٰنَ الله ولوستله نو هغه د سلو حجونو کوونکي پۀ شان دے. (17)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** وګورئ چې څومره اسان اعمال دي...!! حاجيان حج له ځي، د هغوئي دې حج مبارک شي، مونږ نشو تلے، مونږ که د کعبې د طواف کولو، پۀ مزدلفه، او منیٰ او عرفات کښې د قيام برکتونه نشو حاصلولے، که د دې مبارک سفر سعادت نه شو حاصلولے، نو کم از کم مونږ دا خو کولے شو چې روزانه سحر او ماښام 100، 100 ګرَته سُبۡحٰنَ الله ولولو، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د 100 حجونو ثواب به مو نصيب شي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

323

[17]... ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ: 797، حدیث: 3471۔

## (2): مور پلار ته پهٔ محبت سره کتل

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حج د ثواب ذریعه جوړېدونکے دویم نیک عمل دے: مور پلار ته د محبت پهٔ نظر کتل. د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کله چې اولاد د خپل مور پلار پهٔ لور د رحمت پهٔ نظر اوګوري نو **الله** پاک د هغهٔ د پاره د هر نظر پهٔ بدله کښې د **حَجِّ مَبرُور** (یعني د قبول شوي حج) ثواب لیکي. صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان عرض وکړو: اګر که پهٔ ورځ کښې ورته 100 ځله [د رحمت پهٔ نظر] اوګوري؟ اوئې فرمائیل: نَعَمْ، اَللّٰهُ اَکْبَرُوَ اَطْیَبُ یعنې آؤ! **الله** پاک د ټولو نه لوئي او د ټولو نه زیات پاک دے.(18)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور وکړئ چې څومره اسان عمل دے، هسې خو به دا **حدیثِ پاک** مونږ ډیر ځل اوریدلے وي خو پهٔ دې باندې مونږ څومره عمل کوو، دا **الله** پاک ته بهتره معلومه ده. که عمل پرې نه کوو نو ذِهن جوړول پکار دي چې آخر پهٔ دې زمونږ نه څهٔ ځي، مفت ثواب دے او هغه هم لږ نه بلکې د مقبول حج ثواب دے. لِهٰذا مور پلار زمونږ جنّت دے، سحر او ماښام، شپهٔ ورځ، چې کله مو زړهٔ وغواړي، مور پلار ته د محبت پهٔ نظر ګورئ! خو دومره خیال ساتئ چې کله مور پلار ته د محبت پهٔ نظر ګورئ نو پهٔ هغه وخت کښې ښه نیت ضرور کوئ! مثلاً دا نیت کوئ چې پهٔ دې **حدیثِ پاک** باندې د عمل کولو پهٔ نِیَّت مور پلار ته د محبت پهٔ نظر ګورم! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د قبول شوي حج ثواب به مو نصیب شي.

323

18... شُعَبُ الْاِیمان، باب فی برالوالدین، جلد:6، صفحہ:186، حدیث:7856۔

## د مور او د ځوي د محبت نه ډک انداز

ډير مشهور صحابئ رسول دے، حضرت ابُو هريره رضی اللہ عنہ. د هغوئي انداز ډير ښکلے وو. هغوئي به چې کله په سفر روانيدلو نو د خپلې مور کور ته به حاضريدلو، په دروازه کښې به ودريدلو او وئيل به يـې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ يَا أُمَّتَاهُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ يعنې مور جانې! په تاسو دې د اللّٰه پاک له طرفه سلامتي، رحمت او برکتونه نازل شي. په جواب کښې به د هغوئي مور وئيل: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ يَا بُنَيَّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اے ځويه! په تا دې هم د اللّٰه پاک له طرفه سلامتي، رحمت او برکتونه نازل شي. بيا به حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ وئيل: اللّٰه پاک دې په تاسو باندې رحم وکړي چې تاسو په وړوکوالي کښې زما پالنه کړې وه. د هغوئي مور بي بي به په جواب کښې وئيل: اللّٰه پاک دې په تا باندې هم رحم وکړي څنګه چې تۀ په بوډۍ والي کښې زما خيال ساتې. (19)

سُبْحٰنَ اللّٰه! خومره ښکلې ادا ده...!! سوچ وکړئ چې حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ به دومره د محبت په انداز کښې د خپلې مور بي بي شکريه ادا کوله نو د هغوئي مور بي بي ته به خومره سکون نصيب کيدو...!! يقيناً زمونږ د مور پلار په مونږ باندې ډير احسانونه دي، دومره احسانونه دي چې مونږ د هغې بدله نشو ورکولے. يو ځل د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ نه پوښتنه وشوه: د مور پلار خومره حقونه دي (يعني پوښتنه کوونکي دا غوښتله چې د حقونو شميره بيان شي د پاره د دې چې هغه وشميرم او پوره پوره



19...ادب المفرد، باب جزاء الوالدين، صفحہ:16، حديث:12۔

www.dawateislami.net

يـې ادا کړم). سيدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ چې د دې کوم جواب ورکړو، هغهٔ د کمال نهٔ ډک جواب وو، هغوئي پهٔ يوه جمله کښې خبره ختمه کړه، اوئې فرمائيل: د مور پلار حق دومره [ډير] دے چې که دوئي وفات شي او ځوي يـې واپس راژوندي کولے شي نو راژوندي دې يـې کړي. [20]

د دې وئيلو مقصد دا وو چې څنګه د مړي راژوندي کول د عام انسان د پاره ناممکن دي، هم داسې د مور پلار حقونه پوره کول او د هغې شميرل، دا هم ناممکن دي.

اوس سوچ وکړئ چې که مونږ د دوئي د احسانونو او د دومره حقونو د احساس ساتلو پهٔ وجه دوئي ته د محبت پهٔ نظر اوګورو، دوئي سره پهٔ مينه خبرې وکړو نو زمونږ پرې څهٔ ځي؟ څهٔ خو رانه ځي نهٔ بلکې دومره ثواب چې **رَبِّ** کريم به پهٔ خپل رحمت سره مونږ ته د قبول شوي حج ثواب راعطا کړي. ځکه مونږ له دا عادت جوړول پکار دي چې که زيات نه وي نو پهٔ ورځ کښې کم از کم يو ځل ضرور دا **حديثِ پاک** پهٔ ذهن کښې راولو او د ښو ښو نِيَّتونو سره خپل مور پلار ته د محبت پهٔ نظر ګورو!

## (3): د مور پلار قبر ته حاضري

ځغه اِسلامي ورونړه د کومو چې مور پلار پهٔ دې دُنيا کښې نشته، وفات شوي دي، هغوئي به سوچ کوي چې مونږ به د حج ثواب څنګه حاصلوو؟ مونږ به د مور پلار زيارت څنګه کوو؟ د هغوئي پهٔ خدمت کښې عرض دے چې غم مهٔ کوئ،

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين (يعني د ټولو جهانونو د پاره رحمت) دے، هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک هم محرومه نه پاتې کوي، هٰغه خلق د چا مور پلار چې د دُنيا نه تشريف وړے دے، په قبرونو کښې دي، رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته هم د حج د ثواب حاصلولو طريقه ښودلې ده، آؤ جي! حديثِ پاک واورئ! خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ زَارَ قَبْرَ اَبَوَيْهِ اَوْ اَحَدَهُمَا اِحْتِسَابًا كَانَ كَعَدْلِ حَجَّةٍ مَبْرُوْرَةٍ

ترجمه: څوک چې د خپل مور پلار، دواړو يا يو (کوم چې هم وفات شوے وي، د هغوئي) قبر له د ثواب په نيت لاړ شي، د هغهٔ دا عمل د مقبول حج برابر دے. (21)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د چا مور پلار ژوندي دي، هغوئي دې د محبت په نظر هغوئي ته ګوري، د حج ثواب به حاصلوي او د چا مور پلار چې وفات شوي وي نو اوس هم د هغوئي سره موقع شته، هغوئي دې د مور پلار د قبر زيارت کوي نو هغوئي ته به هُم د مقبول حج ثواب نصيب کيږي. ځکه پکار دي چې مونږ مور پلار ته د محبت په نظر ګورو او که هغوئي وفات شوي وي نو قبر ته يې حاضري کوو، دا اسان کار که په ورځ کښې سل ګرَته هُم کوئ نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! هر ځل به د حج ثواب حاصلوئ.

## (4): د جُمعې سره نـمونځ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حج د ثواب باعث جوړېدونکو اعمالو



❷❶...نوادِرُالْاُصُول، الاصل الخامس عشر، جلد:1، صفحه:72۔

www.dawateislami.net

کښېږي يو نيک عمل د جَمعې سره نـمونځ کول هم دے. د حضرت ابو اُمامه رضی اللہ عنہ نه روايت دے: رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د کور نه پاک شوے د جَمعې سره د فرض نـمونځ د پاره ځي، د هغهٔ ثواب د اِحرام تړونکي حاجي پهٔ شان دے، او څوک چې د څاښت د نـمونځ د پاره د جومات پهٔ لور لاړ شي د هغهٔ ثواب د عمره کوونکي همره دے. (22)

**پهٔ يو بَل روايت کښې دي:** د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره کول د يو حج برابر دے، او د سحر نـمونځ د جَمعې سره کول د عمرې برابر دے. (23)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د جَمعې سره د نـمونځ...!! اوس وګورئ چې حاجيان چې بعضو مخکښې حج ادا کړے دے او بعضې اوس روان دي، او د طواف خوندونه به اخلي، د صفا او مروه سعي به کوي، مزدلفې او منیٰ او عرفات ته به ځي، د مدينے منورې د حاضرئ سعادت به حاصلوي، د هغوئي خوش قِسمتي ده چې هغوئي ډير د اعلیٰ سعادت والا دي، که مونږ د حج د پاره نشو تللے، که مونږ د دې سعادتونو نه محرومه پاتې يُو نو کم از کم مونږ د حج ثواب خو حاصلولے شو، د جَمعې سره د نـمونځ عادت جوړ کړئ! د ماسخوتن نـمونځ هم د جَمعې سره کوئ! د سحر نـمونځ هم د جَمعې سره ادا کوئ! باقي درې واړه نـمونځونه هم پهٔ جومات کښې د تکبيرِ اُولیٰ سره د ادا کولو سعادت حاصلوئ! بلکې اودس پهٔ کور کښې کوئ او د جومات پهٔ لور ځئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! د حج او عمرې ثواب به مو نصيب کيږي.



22...ابوداود، کتاب الصلاة، باب فضل المشی الی الصلاة، صفحه: 102، حديث: 558۔
23...لطائف المعارف، وظائف شوال، المجلس الثالث، صفحه: 337۔

www.dawateislami.net

## د جَمعي سره نـمونځ ادا کول واجب دي

بے شکه ❁ جومات ته تلل ❁ د جومات سره محبت کول ❁ د جومات سره زړۀ لګول ❁ پينځۀ واړه نـمونځونه د جَمعي سره ادا کول د نيک بنده علامت دے، **الله** پاک ارشاد فرمائي:

وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾ (پاره1، سورۀ بقره:43)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ.

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: د دې (يعني، او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ) مطلب دا دے چې د جَمعي سره نـمونځ کوئ، ځکه چې د جَمعي سره نـمونځ د يواځې نـمونځ کولو نه 27 درجې افضل دے. (24)

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت
ہو توفیق ایسی عطا یا اِلٰہی! 25

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د جَمعي سره نـمونځ

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا نه رِوايت دے: چې کله د سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربارِ عاليشان کښې سخته بيماري حاضِرِ خِدمت وه، نو حضرتِ بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د نمانځه د اطلاع ورکولو د پاره حاضر شولو نو [خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم]



24.. تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:43، جلد:1، صفحہ:340۔
25...وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

اِرشاد اُوفرمائيلو: ''اَبُوبکـر ته اُووايه چې خلقو ته نمونځ اوکړي.'' بيا چې کله حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د نمانځه **جَمعه** ورکولو کښې مشغول وو نو په دې دوران کښې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل طبيعت مبارک کښې څه بهتري محسوس کړه نو پاڅيدلو او دوو کسانو ته ئې [د مرستې کولو] د خدمت سعادت ورکړلو او جُمات ته ئې داسې تشريف يوړلو چې مبارک قدمونه ئې په زمکه لګيدل، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکالو (يعني د قدمونو مبارکو آواز) محسوس کړلو نو شا ته کيدل يې شروع کړل، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اِشاره اوکړه (چې شا ته مه راځئ) بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ګڅ طرف ته کښيناستلو، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په ولاړه او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ناسته نمونځ کولو، حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکـر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اِقتِدا کښې (يعني حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې) نمونځ ادا کولو او خلقو د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکـر صِدِّيق (اِقتِدا کوله). (26)

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه او د جَمعې سره د نـمونځ اهتمام

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د دې حکايت نه زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَمعې سره د نـمونځ کولو د ډيرې خوښې اظهار کيږي چې د سختې بيمارۍ د حاضرۍ په حالت



[26]... بُخاری، کتاب الاذان، باب الرجل یاتم بالامام...الخ، صفحہ:237، حدیث:713۔

کښې هم رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم جَمعه پرېښودل خوښه نه کړه.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! څوک چې واقعي رښتوني عاشقان دي، هغوئي هم د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په پيروئ کښې د جَمعې سره د نـمونځ کولو سره ډېر محبت کوي او په هر حال کښې د جَمعې سره نـمونځ کوي. د اعلیٰ حضرت، امام اهلسُنَّت امام احمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې منقول دي چې يو ځل په ربيع الاول شريف کښې د دولسم شريف په پاک محفل کښې د شرکت کولو او بيان کولو نه پس ماښام اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سخت بيمار شولو، د دې مرض د سختوالي په باره کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله فرمائي چې دا ځل داسې بيمار شوم چې چرې هم داسې نه ووم بيمار شوے، ما وصيت نامه هم ليکلې وه.

د دې مرض د حاضرئ په وخت داسې نازک حالت وو چې جومات د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کور سره بالکل نزدې وو، د دې باوجود به پخپله جومات ته نشو حاضرېدے خو قربان شم! د سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جَمعې سره د نـمونځ کولو سره د محبت نه چې په دې حالت کښې هم د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه يوه جَمعه هم پاتې نه شوه، اګرچې په دې حال کښې په هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې جَمعه واجب نه وه خو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په افضل باندې عمل کولو او پينځه واړه نـمونځونه به يـې د جَمعې سره ادا کول، د دې حالت به څهٔ داسې وو چې څلورو ګسانو به په کُرسئ باندې کښينولو او جومات ته به يـې يوړلو او د نـمونځ نه پس به يـې کور ته واپس راوړلو.[27]



27... فتاویٰ رضويه، جلد:9، صفحه:547 بتصرف۔

| | |
|---|---|
| خدا کی محبّت، نبی کی محبّت | کے پیکر ہیں بے شک مِرے اعلیٰ حضرت |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُبْحٰنَ الله! دا دے رښتونے عشقِ رسول! آه! اوس د عشقِ رسول صرف لوئے لوئے دعوېٖ پاتې دي، افسوس چې د صحت باوجود خلق جُمعه خو څۀ چې نـمونځ هم پرېږدي!

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے برتر عبادت نماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رب سے دلوائے گی تم کو جنت نماز |

*_*_*_*

| | |
|---|---|
| پیارے نبی کی آنکھ کی، ٹھنڈک نماز ہے | جنت میں لے چلے گی جو، بے شک نماز ہے |

کاش چې مونږ ته هم پينځه واړه نـمونځونه د جَمعې سره د جومات پۀ وړومبي صف کښې، د تکبيرِ اولیٰ سره د ادا کولو سعادت رانصيب شي او د دې مو داسې عادت جوړ شي چې تر مرګه پورې رانه د شرعي مجبورئ نه بغير چرې يوه جَمعه هم پاتې نه شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (5): د اِشراق نـمونځ

د حضرت اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره ادا کړي بيا (پۀ جومات کښې) کښيني د الله ذکر کوي، تر دې پورې چې نـمر راوخيژي، بيا دوه

رکعته نـمونځ وکړي، د هغهٔ د پاره د يو حج او يوې عمرې ثواب دے.

حضرت اَنس رضی اللہ عنہ فرمائي: سرکار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم درې کَرَته ووفرمائيل: تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ (يعنې د دې عمل سره به د پوره حج او عمرې ثواب ميلاويږي).[28]

مَاشَآءَ الله! سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم عاشقانو! دا نيک عمل هم اختيار کړئ! د اشراق نـمونځ ادا کوئ! بلکې ورسره دوه رکعته د څاښت نـمونځ هم يو ځائے کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د يو حج او يوې عمرې ثواب به مو نصيب شي.

## د اشراق د نـمونځ پهٔ برکت او بخښلے شو

حُضُور خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د **الله** پاک سره د محبت کوونکو طريقه ده چې سحر (يعنې د سحر) د نـمونځ ادا کولو نه تر نـمر راختو پورې پهٔ جائے نـماز باندې ناست وي، د هغوئي مقصد دا وي چې د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې مقبول شي او پهٔ هغوئي باندې هر وخت انوار را اُوريږي، داسې کَس چې کله د سحر نـمونځ ادا کړي او پهٔ جائے نـماز کښيني نو فرښتې ته حکم وشي چې تر څو پورې هغه نه وي پاڅيدلے، هغهٔ له ورشه او د هغهٔ د پاره بخښنه غواړه.

بيا خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ پهٔ دې باره کښې يوه واقعه بيان کړې ده فرمائي: يو کفن غلا کوونکي تر ځلويښتو کالو پورې کفنونه غلا کول، آخر چې کله مړ شو نو چا پهٔ خوب کښې وليدو چې پهٔ جنّت کښې ګرځي،

323

28...ترمذی، ابواب السفر، باب مایستحب من الجلوس...الخ، صفحہ:171، حدیث:586۔

خوب ليدونڪي ترينه د دې سبب پوښتنه وکړه نو اوئې وئيل: زما يو عادت وو چې کله به مې د سحر نـمونځ ادا کړو نو د نـمر راختو پورې به د **الله** پاک په ياد کښې مشغول اوسيدم، بيا به مې د اشراق نـمونځ ادا کولو. ولې چې**الله** پاک ډير بخښونڪے دے، ځکه **الله** پاک زما دا يو عمل قبول کړو او زۀ يـې وبخښلم. (29)

ميں پڑھتا رہوں سنّتیں وقت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا یااِلٰہی! (30)

## (6): د جومات په علمی مجلس شرکت کول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حج ثواب حاصلوونڪے يو بَل عمل واورئ!

د حضرت ابو اُمامه رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې نبي پاک صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوک چې سحر د جومات په لور د نيکۍ زده کولو او ښودلو په اراده لاړ شي، هغۀ ته به د کامل حج ثواب ميلاويږي. (31)

سُبْحٰنَ اللہ! دا هم څومره ښکلے عمل دے...!! اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د سحر د نـمونځ نه پس د تفسير بيانولو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي ❀ په دې کښې درې قرآني آيتونه ❀ د هغې ترجمه او تفسير بيانيږي ❀ د فيضانِ سُنَّت نه دَرس کيږي ❀ شجره شريف لوستلے کيږي ❀ دُعا کيږي او ❀ په آخره کښې د اشراق او څاښت نفلونه هم ادا کوي.

❀ تاسو هم د تفسير اوريدو او بيانولو په حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ



[29]...دلیل العارفین (مترجم)، صفحہ: 124، 126 ملتقطاً۔
[30]...وسائلِ بخشش، صفحہ: 102۔
[31]... معجم کبیر، جلد: 4، صفحہ: 248، حدیث: 7346۔

کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډير برکتونه به درنصيب شي ❁ د **حديثِ پاک** مطابق د حج ثواب به مو نصيب کيږي ❁ چې د سحر وخت مو په نيکو کښې تير شي نو برکتونه به هُم درنصيب کيږي ❁ ټوله ورځ به مو ښه تيريږي ❁ سحر سحر به د عِلمِ دِين زده کولو موقع درنصيب کيږي ❁ د شجرې شريفې لوستلو په صورت کښې به د نيکانو بندګانو ذِکر کيږي ❁ د هغوئي محبت به مو په زړهٔ کښې زياتيږي ❁ د اوليائے کرامو رُوحاني توجه به درنصيب کيږي ❁ ايمان به مو تازه کيږي ❁ د هغوئي په وسيله شوې دُعاګانې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! قبليږي ❁ يو ډير لوئي برکت به دا درنصيب کيږي چې **د سحر د نمونځ نه تر اشراق پورې په جومات کښې ايساريدل د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي** په دې باندې به د عمل کولو سعادت به درنصيب کيږي ❁ د **حديثِ پاک** مطابق څوک چې د سحر د نمونځ نه پس په ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بيا د اشراق، څانښت نفلونه وکړي، هغهٔ ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کيږي.[32]

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (7–8): د حج د ثواب باعث جوړيدونکي 2 اعمال

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حج د ثواب باعث جوړيدونکي نور هم ډير اعمال دي، مثلاً ❁ رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْن يعني د جُمعې نمونځ د مسکينانو حج دے.



32... شعب الايمان، باب فی الصيام، جلد:3، صفحه:420، حديث:3957۔

پهٔ يو بَل روايت کښې دي: اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاء يعني د جُمعې نـمونځ د غريبانانو حج دے.[33] ❀ هُم دا رنګ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د خپل مسلمان ورور د حاجت پوره کولو د پاره ځي الله پاک پهٔ هغهٔ باندې د 75 زرو فرښتو پهٔ ذريعه سورے فرمائي هُغه فرښتې د هغهٔ د پاره دُعا کوي او هغه د فارغيدو پورې پهٔ رحمت کښې غوپې وهي او چې کله د دې کار نه فارغ شي نو الله پاک د هغهٔ د پاره د يو حج او يوې عمرې ثواب ليکي.[34]

## د بيان خلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د بيان خلاصه دا ده چې حج له تلل، مکے ته رسيدل، طواف کول، د صفا او مروه د سعي خوندونه اخستل، ميدانِ عرفات، مُزدلفې او منیٰ ته تلل، هلته د راوريدونکو رحمتونو حقدار جوړيدل ډير لوئې سعادت دے، رَبِّ کريم دې زمونږه هر کال دا سعادت نصيب کړي. البته! که مونږ حج له نشو تللے، دومره وسيلې راسره نه وي، رکاوټونه وي، بيا هم پهٔ زړهٔ کښې د حج درد ساتل پکار دي، چې پهٔ زړهٔ کښې رښتينے خواهش وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! کرم به هم وشي. بيا د دې سره سره دا چې مونږ حج له نشو تللے نو کم از کم د حج د ثواب باعث جوړيدونکي اعمال اختيار کړو، مونږ چې اوس کوم حديثونه واوريدل، د هغې مطابق مونږ د څومره ډيرو حجونو ثوابونه ګټلے شو. آؤ جي! ❀ سحر او ماښام 100، 100 کَرَته سُبْحٰنَ اللّٰه! لولئ نو د سلو حجونو ثواب به مو کيږي



33...جامع الصغير، صفحہ:221،حديث:3635،3636۔
34...معجم اوسط،3/222،حديث:4396

www.dawateislami.net

❁مور پلار ته د محبت په نظر ګورۍ نو په هر ځل کتلو به د يو مقبول حج ثواب درنصيب کيږي ❁که مور پلار مو وفات شوي وي نو د هغوئي قبر ته حاضري کوئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د مقبول حج ثواب به مو نصيب کيږي ❁د جَمعې سره نـمونځ کوئ نو د حج ثواب به درنصيب کيږي ❁ د سحر د نـمونځ نه پس په جومات کښې کښينئ! د اشراق د نفلونو ادا کولو نه پس ځئ نو د قبول حج او عُمرې حج ثواب به مو کيږي ❁سحر جومات ته د دِين زده کولو او ښودلو د پاره ځئ نو د حج ثواب به ميلاويږي ❁ د جُمعې نـمونځ ادا کوئ! د جُمعې د نـمونځ د پاره جومات ته زر ځئ نو د حج ثواب به مو کيږي ❁د خپل مسلمان وررور د ضرورت په وخت په کار راځئ! د دې په برکت به هم اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د حج ثواب درنصيب کيږي. **اللہ** پاک دې زمونږه د حج شوق نصيب کړي او د حج د ثواب حاصلولو د پاره دې ټول کال بلکې ټول عمر د دې نيکو اعمالو اختيارولو سعادت رانصيب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د حج د شوق، د مکے د شوق، د مدينے د شوق بلکې د شهنشاهِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عشق په زړه کښې د زياتولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو

کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي. پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: علاقائي دوره.

❁ د حديثِ پاک خلاصه ده: کومې ښېې چې د الله پاک پهٔ لاره کښې پهٔ خاورو خړې شي، هغو ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي[35]

❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يې هم د نيکۍ د دعوت د پاره تشريف وړلو.

❁ د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته ځي او د نيکۍ دعوت ورکوي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکوي ❁ د نـمونځونو ترغيب ورکوي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايـو.

## شرابي د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو

د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله کَپَړوَنج (ګجرات، هندوستان) ته تلې وه، شُرکائے قافله د علاقائي دورې د پاره د جومات نه بهر تشريف يوړلو، پهٔ علاقائي دوره کښې يـې پهٔ يو شرابي باندې انفرادي کوشش وکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هٰغه شرابي د قافلې والؤ سره د جومات پهٔ لور روان شو، اِسلامي ورونړو د هغهٔ سره دومره د ښو اخلاقو مظاهره وکړه چې هغه شپږ ورځې د مَدَني قافلې والؤ سره وو، د علاقائي دورې پهٔ برکت او د عاشقانِ رسول د صحبت پهٔ وجه



35...مسند امام احمد، جلد:6، صفحہ:507، حديث:16356۔

هغۀ د ګناهونو نه توبه کړه، ګيره مبارکه يـې پرېښوده، عمامه شريف يـې هم پۀ سر کړه. بيا هغه د اِسلامي ورونړو سره د نورو 92 ورځو پۀ مَدَني قافله کښې د سفر خواهش مند وو خو... آه...!! د خرچې نه لرلو پۀ وجه هغه د قافلې نه پاتې شو، يوه ورځ د هغۀ د يو خپلوان سره ملاقات وشو نو چې کله يـې د معاشرې يو بد کرداره بنده [يعني هغه سابقه شرابي] د دِيني ماحول سره وابسته وليدو نو حيران پاتې شو، او چې کله هغۀ ته پۀ مَدَني قافله کښې د هغۀ د نه تللو وجه بيان کړے شوه نو هغه خپلوان يـې اُووئيل، د پيسو فِکر مۀ کوه. د 92 ورځو مَدَني قافله کښې د سفر خرچ زما له طرفه قبول کړه او ورسره تر 92 ورځو پورې د کور خرچه هم زۀ پۀ خپله ذِمه اخلم، داسې هغۀ ګس د 92 ورځو د پاره د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "اَلْقُرْآنُ الْكَرِيم" ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټيکنالوجۍ دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک **دعوتِ اِسلامي** د جديد ټيکنالوجۍ پۀ ذريعه هم د عِلمِ دِين عام کولو کوشش کوي. د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې: ***Al Quran Al kareem*** (القرآن الکريم) دے. پۀ دې ايپلي کيشن کښې ❁ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❁ او د مختلفو قاريانو پۀ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوريدلو سهولت موجود دے ❁ دې سره سره يو خاص سورت يا آيت ***Bookmark*** کيدے هم شي يعني بيا بيا لوستونکے سورت يا آيت د ***Bookmark*** کيدو سره پۀ اسانۍ سره اوريدے شئ. تر اوسه

پوري تقريباً د لسو لاکو نه زياتو ګسانو دا اپيلي کيشن ډاؤن لوډ کړے دے. تاسو هم دا اپيلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د څينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [36]

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[37]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي:

(1): څوک چې وعده نه پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته. [38] (2): کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي په هغهٔ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے. [39]

323

36...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
37...وسائل بخشش، صفحہ:115۔
38...مصنف اِبْنِ اَبی شیبہ، کتاب:الایمان، جلد:7 صفحہ:223۔
39...بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبياء دي ❁ زمونږه آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپله وعده کلک ولاړ وو او ❁ وعده ماتول به يـې نه خوښول ❁ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودريږئ! زه دا دے اوس راځم، هغه کَس لاړے خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هُغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم په هُغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښو اخلاقو ته يـې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه کَس اونه رټلو او نه په جلال کښې راغلو، بس دومره يـې ووفرمائيل: اے سړيه! تا زه په مشقت کښې واچولم.[40] الله پاک دې مونږ هم په سُنّتِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.



40...اَبُوداؤد، کتاب ادب، باب في العدة، صفحه: 781، حديث: 4996۔

www.dawateislami.net

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[41] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

323

41… افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[42] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[43] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[44] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.



42...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

43...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

44...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

www.dawateislami.net

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[45] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[46] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[47] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



45 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

46 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

47 ... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥